UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د استراتیژیکو اړیکو او ویاند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلامیه
http://unama.unmissions.org

# د کوچني اختر په ویاړ د ملګرو ملتونو د ځانګړی استازی یان کوبیش وینا

**د ۲۰۱۲ کال د اګست د میاشتي ۱۶-** زه په افغانستان کي د ملګرو ملتونو د کورنی په استازیتوب او د کوچني اختر په ویاړ، تاسو ته د زړه له کومې مبارکي وړاندې کوم او د دغه مهم مذهبي مناسبت په هکله د ښې لمانځنې هیله کوم.

افغانانو د روژې د مبارکي میاشتي په اوږدو کي روژه نیولي او د ګډو مذهبي او فرهنګی ارزښتونو لپاره یې د ژمني څرګندويي کړې او د روژې په ورځو کي یې د غبرګون، ښې ګذارې او زغم درناوی کړی.

موږ خوښ یو چي د افغانستان د خلکو سره یو ځای کوچنی اختر لمانځو. دا د شخصي، کورني او ټولنیز نویتوب وخت دی، د بیلګي په توګه، ټول خلک د عبادت او دعا لپاره یو ځای کیږي او د خوشالیو په دغو ورځو کي یو بل ته مبارکي وایي.

زه هیله مند یم چي د روژې په دغو مذهبي ورځو کي د سولي او همغږي روحیه به همدارنګه په افغانستان کي د سولي د رامنځ ته کولو په چارو کي ملي هڅې پیاوړې کړي.

---

**United Nations Assistance Mission in Afghanistan (UNAMA), Kabul, Afghanistan**
**All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org**